

# شاهي تاريخ

**تاريخ سلاطين افاغنه**

## په هندوستان کې د پښتنو واکمنانو تاريخ

(لودیان او سوریان)


لیکوال: احمد یادګار

ژباړن: محمد الله (ساپی)


شاهي تاریخ | تاریخ سلاطین افاغنه


لیکوال: احمد یادګار

ژباړن: محمد الله (ساپی)


# TARIKH-I-SHAHI

## (ALSO KNOWN AS TARIKH-I-SALATIN-I-AFAGHINA)

OF

## AHMAD YADGAR

د بهلول او د شېرشاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اووه پېړۍ يې هسې بادشاهي وه
چې په دوی پورې درست خلک وو حيران
يا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول
يا د خدای دی اوس دا هسې شان فرمان
که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

(خوشحال خان خټک[رح])


Translated to Pashto by: Mohammadullah Safi



2022

ISBN 978-9936-661-42-4

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د پښتو څېړنو بين المللي مرکز

# شاهي تاريخ

## ﴿تاريخ سلاطين افاغنه﴾

## په هندوستان کې د پښتنو واکمنانو تاريخ

## (لوديان او سوريان)

ليکوال: احمد يادګار

ژباړن: محمدالله (ساپی)

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** شاهي تاريخ ( تاريخ سلاطين افاغنه)

**ليکوال:** احمديادګار

**اردو ژباړه:** سيد نذير نيازي

**پښتو ژباړه:** محمد الله ساپی

**وروستۍ کتنه، سريزه او چاپ زيار:** اکاډميسين دوکتور سيد محی الدين هاشمي

**خپروونکی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د چاپ کال:** ۱٤۰۱ ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**دچاپ ځای:** لايف سټار مطبعه، کابل-افغانستان

ISBN : ۴- ۴۲- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


((تاریخ سلاطین افاغنه)) دهغه لیکوال او ژباړونکي
(اکاډمېسن دوکتور سید محی الدین هاشمي)........................................ ۱
**سریزه** (محمد هدایت حسین)............................................. ۱۳
**بهلول لودي** ............................................................. ۲۳
**سلطان سکندر لودي**..................................................... ۵۳
د سلطان سکندر په دوران کې د ځینوحیرانو ونکو پېښو یادښت ........... ۷۷
د سکندر د ځینو هغو امیرانویادونه، چې په سخاوت کې یې ساری نه وو............ ۸۵
د سکندر لودي دنورو احوالو یادونه............................................ ۸۹
**سلطان ابراهیم لودي** ..................................................... ۹۳
د سلطان ابراهیم د واکمنۍ پر مهال د ځینوعجایبو پېښو یادونه ................ ۱۲۵
د سلطان ابراهیم د ځینو لوړ پوړو چارواکو یادونه ................................ ۱۳٤
ظهیرالدین بابر شا ه........................................................... ۱۳۹
محمد همایون پاچا............................................................. ۱۵۵
**شېرشاه سوري** ............................................................. ۱۹۷
**اسلام شاه** ................................................................. ۲۶۳
د شجاع خان د یادونې د پای ټکی.............................................. ۲۸۵
د ځینو هغو هېښوونکو پېښو بیان، چې د اسلام شاه د واکمنۍ پرمهال رامینځ ته
شوې وې ...................................................................... ۲۹۰
**فیروز شاه د اسلام شاه زوی** ............................................... ۲۹۷
ممریزخان  المخاطب به عادل شاه............................................... ۳۰۳
**ابراهیم شاه** ................................................................ ۳۱۵
**سکندرشاه سوري** ........................................................... ۳۲۱
د همایون ایران ته تلل او بېرته د هندوستان د لاندې کولو لپاره تابیا نیول......... ۳۲۲

د هندوستان د نيولو لپاره د همايون يرغل ........................................ ۳۵۲
د عادل شاه د ژوند د وروستيو حال ، او جلال الدين محمد اکبر ته دو اک ليږد... ۳٦۱
د اشخاصو نوملیک .................................................................... ۳۷۵
د ځايونو نومونه ........................................................................ ۳۹۱
کتابونه................................................................................... ۴۰۰
د کتاب فارسي متن د مدون سريزه (په انگليسي ژبه) او د کتاب پای .............. ۴۰۸

د لوی ښتن تعالی(ج) په سپیڅلي نامه !

# (( تاریخ سلاطین افاغنه ))

# دهغه لیکوال او ژباړونکي

د تاریخ لغوي معنا نېټه ، وخت ، سنه ، د کوم شي د وخت تعینول او د هغه کتاب نوم چې تیرې پېښې بیانوي او په اصطلاح کې تاریخ په ځانګړې توګه د بشري پېښو مجموعې ته وایي چې د یوې ټولنې د خلکو او هېواد ټولنېزه ، سیاسي ، اقتصادي ، علمي، کلتوري وضعه او حالت د پېښو د اړیکو څرنګوالي د علت او معلول په اساس پکې څېړل شوي اوڅه ثمرې او نتیجې پرې بناء شوې وي اوپه عامه معنا او مفهوم د یوشي د تېروخت مطالعې ته تاریخ وایي.

د تاریخ له نظره هرډول پېښې د تاریخي تکامل د ودې او پرمختیا د ټاکلو شرایطو محصول ګڼل کېږي او دا څرګندوي چې نوموړې پېښې څنګه او څه وخت منځته راغلي ، څنګه یې وده او پرمختیا موندلې او ولې یې دغسې یاهغسې بڼه خپله کړې ده.

د مخه تردې چې (( تاریخ شاهي )) یا (( تاریخ سلاطین افاغنه )) د خپلو بېلابېلو ارزښتونو او اهمیتونو له مخې دروپېژنو ، پرمنځپانګې یې لنډه شننه او تحلیلي کتنه وکړو ، ښه به داوي چې لومړی د تاریخ شاهي د لیکوال او هغه پښتون واکمن د پېژندنې په اړه هم ډیرې لنډې یادونې اوڅرګندونې ولرو چې دغه تاریخ یې د واکمنۍ پر مهال، په غوښتنه او سپارښتنه لیکل شوی دی.

د تاریخ شاهي، چې اصلي نوم یې (( تاریخ سلاطین افاغنه )) دی او په ډېرو باوري تاریخي سرچینو کې په همدغه نوم یادشوی، یوازې د فارسي متن مرتب اومدون له دې امله چې د لاهور پر قلمي نسخې یې تاریخ شاهي لیکلې، هغه ((تاریخ شاهي)) (معروف به تاریخ سلاطین افاغنه) بللی او په دې نوم یې په کلکته کې چاپ او خپورکړی دی، لیکوال یې احمد یادګار د میرزا یادګارناصر زوی دی. د نوموړی د ژوند

نورحالات  نه دي معلوم ، يوازې پرخپل ليکلي تاريخ له مقدمې څخه دومره معلومېږي چې يو پښتون عالم او ليکوال دی ، په بنګال کې د پښتنو د وروستي واکمن  پاچا داؤدشاه کرلاڼي، چې د سلمان کرلاڼي زوی و، د هغه  په غوښتنه يې په هند کې د لوديانو او سوريانو د واکمنيو د حالاتو په اړه يومفصل تاريخ ليکلی دی.

د دغه تاريخ ليکنې له پاره د نومونړي واکمن د غوښتنې او د ليکوال د منني او ليکنې د نورڅرنګوالي په هکله به وروسته ددې اثر د پېژندنې لپاره لازمې څرګندونې وشي ،خو دلته د پښتون واکمن داؤد شاه د پېژندنې په برخه  کې همدومره لنډه يادونه بسنه کوي چې نوموړی د سلمان کرلاڼي زوی ، پربنګال يې ( ۹۸۰ــ ۹۸۴ هــ .ق ) يا له ۱۵۷۲ ميلادي څخه تر ۱۵۷٦ ميلادي کال پورې څلورکاله واکمني درلوده او پر ۹۸۴ هـ.ق کال له مغولو سره په مخامخ  جګړه کې بندي  او بيا وروسته ووژل شو .

د يادونې وړ ده ، چې د دغه پښتون واکمن نوم ته يو بل تاريخ هم منسوب دی چې عبدالله نومي پښتون ليکوال ( ۱۰۱۰ هــ .ق ژوندی ) ليکلی او (( تاريخ داودي )) يې نومولی دی. ددغه تاريخ منځپانګه هم د تاريخ شاهي (( تاريخ سلاطين افاغنه) په څېر د سوريانو او او لوديانو د واکمنيو حالات د داؤدشاه تر زمانې (۹۸۴هــ .ق  وژل شوی ) پورې بيانوي.

د تاريخ د ليکوال او د هغه پښتون واکمن له لنډې پېژندنې وروسته، چې دا تاريخ يې پرغوښتنه ليکل شوی ،اوس د دغه تاريخ لنډې پېژندنې ته راځو او خبره د ليکوال له خپلو هغو څرګندونو پيلوو چې د خپل تاريخ په سريزه کې يې وړاندې کړي دي .

احمديادګارليکي :

(( يوه ورځ چې موږ څوکسان د ابوالمظفر داؤدشاه په مبارک حضور کې ناست او مجلس موکاوه . دخبرو پرمهال د حمزه آصف خاني په تاريخ باندې په مجلس کې د ناستو کسانو ترمنځ خبره راغله ، په دربارکې ناستو کسانو هرچا د خپل فکر په توان په دې کتاب ترخپلو شننو او نظر څرګندولو وروسته قدرمن مشرښاغلي داؤدشاه ماته مخ راواړوه او ويې ويل : منهاج الدين جوزجاني يو تاريخ (( طبقات ناصري )) د سلطان ناصرالدين په نوم ليکلی .... وروسته  ضيابرني د سلطان غياث الدين بلبن له پاچاهۍ

نه نيولې د فيروزشاه د واکمنۍ ترمهاله تاريخ فيروزشاهي په نوم تاريخ ليکلي ... خوبل مؤرخ له امانت خان څخه پرته د ډهلي په تخت ناست د پښتنو واکمنانو تاريخ، چې د پوپناکېدو او هيرېدلونه وژغورل شي او په امانت ډول د تاريخ پاڼو ته وسپارل شي ، نه دی ليکلی . دا به څومره غوره او د پام وړکار وي که څوک داسې بنسټيز کارته ملاوتړي... دا چې زه ددې درگاه د ډېرو پخوانيو خدمتگارانو له ډلې څخه يم او د دې درنې کورنۍ له نيکيو ډېر پوروړی يم ، د واکمن غوښتنې ته مې د رد ځواب ورنه کړای شو او دې دروند بارته مې اوږه ورکړه . په ډېر زيار او کوښښ سره په دې وتوانيدم چې په هند کې د شپږو پښتنو واکمنانو پېښې او واقعات د کتاب په منځپانگه کې ځای کړم ... )) (تاريخ شاهي ، فارسي متن ۱ـ۲ مخونه )

د تاريخ شاهي د فارسي متن مدون او مصحح مرحوم محمد هدايت حسين، چې دغه اثر يې لومړی ځل په۱۹۳۹ ميلادي کال د هندوستان په کلکته کې چاپ او خپورکړی، په خپله سريزه کې، چې په انگريزۍ ژبه يې ليکلې ، د کتاب په پای کې خپره شوې او بيا سيد نذير نيازي د ژباړې پر مهال اوردو ژبې ته را ژباړلې ده ، د دغه کتاب د پېژندنې په اړه ډېرگټور معلومات وړاندې کړي، چې دلته يې ځينې برخې را اخلو:

مرحوم هدايت حسين صاحب ليکي : (( په عام ډول دا کتاب د (( تاريخ شاهي يا تاريخ سلاطين افاغنه )) په نوم مشهوردی ، خو زما په نظر ورته (( تاريخ شاهي )) ويل ضرور دي . دا تاريخ له دې امله هم مهم دی چې په دې کې يې د بابر د حکومت د دووکلونو او په هندوستان کې د افغان واکمنو حالات مفصل بيان کړي ، چې په هغو کې سلطان بهلول لودي ، سکندر لودي ، ابراهيم بن سکندرشاه ، شيرشاه سوري ، اسلام شاه ، فيروزشاه ( چې دوه مياشتې يې حکومت کړی ) عادل شاه ، ابراهيم سوري ، او د سکندرشاه حالات راغلي او په سريزه کې يې د بابر ، همايون او په ډهلي کې د اکبر واک ته رسيدو د ځينو حالاتو يادونې هم شوي دي . سره له دې چې د دې وروستيو دريو مغلي واکمنانو د حالاتو بيانول د مصنف بنسټيزه موخه او هدف نه دی ، خو دا چې د ځينو پښتنو واکمنانو د حالاتو د بيانولو په ترڅ کې د هغو له يادونو ناچاره و ، نوځکه يې په ضمني ډول د هغو يادونه هم د اړتيا له مخې کړې ده ... ))( تاريخ

شاهي، اردو ژباړه، د یباچه (ن) مخ )
پوهاند صدیق الله رښتین ، چې د هند د کتابتونونو ځینې فارسي نسخې په کابل مجلې ۱۳۴۵ لمریز کال په دویمه او اوومه پرله پسې ۵۶۰ـ ۵٦۷ ) گڼو کې راپېژنې ، نو د هند د علیگړد پوهنتون د کتابتون د نسخو په لړکې یې دا نسخه د ((تاریخ سلاطین افاغنه )) ترسرلیک لاندې داسې راپېژندلې ده : (( د احمد یادگار تألیف دی ، چې هغه د میرزایادگار ناصر زوی و ، قلمي نسخه یې په (٦٢ ) لمبر دغلته خوندي ده ، یوبې طرفه تاریخ دی، د پښتنو د تاریخ په باره کې ښه معلومات په کې راغلي دي .)) ( د کابل مجله ۱۳۴۵ لمریزکال ، دریمه او اوومه گڼه،۴ او ، ۷ مخونه )
مرحوم دوست محمد کامل مومند یې د تاریخ مرصع په سریزه کې د پېژندنې په اړه لیکلي دي:
(( د احمدیادگار فارسي کتاب دی ، د سلطان بهلول له عهده شروع کېږي او د هیمو تر شکسته، گرفتارۍ او قتله پورې تاریخ بیانوي . د بیان له رویه هغه دا تاریخ د داؤد شاه په وینا لیکلی دی ،د ایلیټ اینډ ډاوسن د سلسلې فاضل ایډیټر مدلل د قیاس له رویه د کتاب تألیف زمانه ۱۰۲۰ هـ .ق ( عهد جهانگیری ) ده . نو که دا قیاس صحیح وي ، نو له مخزن افغاني یو کال یا څه موده ترې زیاته اگاهو لیکلی شوی و ، ډاؤسن لیکي چې د داؤد شاه په ۹۸۴ هـ .ق ( ۱۵۷٦ ـ یا ۱۵۷۷ م ) کې مړ یا له مغلو سره په جنگ کې له ماتې وروسته په شهادت رسیدلی و، نو گو یا احمدیادگار هم خپل کتاب د هغه له مرگ نه ډېره موده پس مکمل کړی و.)) ( تاریخ مرصع ، سریزه، ؤـ ی مخونه )
د تاریخ لودهي پټهان لیکوال ډاکټر سعودالحسن روهیله یې د پېژندنې لپاره داسې څرگندونې لري :
((شاهي تاریخ یا تاریخ سلاطین افاغنه)) د احمدیادگار په نوم د یو پښتون تصنیف او تالیف دی. دغه کتاب د بنگال پښتون پاچا داؤد شاه ( ۱۵۷۲ـ ۱۵۷٦ میلادي ) په حکم او غوښتنه لیکل شوی دی ، په دې کتاب کې د سنو او نېټو یادونه ډېره لږه شوې او ډېرې پېښې پکې افسانوي رنگ لري. لیکوال د طبقات اکبري د مصنف نطام الدین هروي (۱۵۹۳ میلادي کال تألیف) له اثر څخه پوره گټه پورته کړې ده ، له دې څخه

داسې ښکاري چې دغه کتاب يې د داؤد شاه په غوښتنه ليکلی وي ، خو ډېر وروسته يې بشپړ کړی . د دې تاريخ فارسي متن لومړی ځل اشياټک سوسايټي بنگال په ۱۹۳۹ ميلادي کال په کلکته کې خپور کړی ، سيد نذيرنيازي هغه اردو ژبې ته ژباړلی او لومړي ځل يې پر ۱۹۸۵ ميلادي کال په لاهور کې د اردو ساينس بورډ له خوا چاپ او خپور کړی دی .)) ( تاريخ لودهي پټهان ، ۲۰۱۲ م کال، ٦۴ ـ ٦۵مخونه )

همدارنگه د دغه تاريخ د پېژندنې په اړه په ځينو نورو باوري معلوماتي سرچينو کې هم لنډې يا اوږدې څرگندونې او يادونې شته ، چې په همدې څو يې دلته بسنه کوو، پخپله د دغه اثر (( تاريخ شاهي ـ معروف په تاريخ سلاطين افاغنه)) دري، اردو او پښتو متنونو ته مراجعه کوو، دري واړه چاپي نسخې درپېژنو او په ټوله کې د دې تاريخ د موضوعاتو او مطالبو پر منځپانگې لنډه شننه او تحليلي کتنه هم کوو.

**۱ ـ ( تاريخ شاهي ( معروف به تاريخ سلاطين افاغنه )**

د احمديادگار د ليکلي تاريخ اصلي فارسي متن په همدې نامه په ۱۳۵۸ هجري قمري ( ۱۹۳۹ ميلادي ) کال د هندوستان په کلکتې کې دايشياسوسايټي اف بنگال له خوا د محمد هدايت حسين په چاپ زيار، سريزه او سمون په ۴۸۲ مخونوکې په منځنۍ (وزيري) کچه چاپ او خپور شوی دی .

د کتاب اصلي متن له لومړي مخ څخه په سريزه پيل شوی او بيا له دويم مخ څخه د بهلول لودي ژوند پېښو او د واکمنۍ په حالاتوشروع کېږي او پر ۳٦۹ مخ پای ته رسېږي. په منځپانگه کې يې په ترتيب سره تر دغو سرليکونو لاندې موضوعات راځي: ((بهلول لودي ، سکندرلودي ، سلطان ابراهيم لودي ، ظهيرالدين بابرشاه ، محمد همايون بادشاه ، شيرشاه ، اسلام شاه ، فيروزشاه بن اسلام شاه ، عادل شاه ، ابراهيم شاه ، سکندرشاه ، رفتن محمد همايون بادشاه بطرف ايران و ديگرواقعات سفر ، يورش محمد همايون بادشاه براى فتح هندوستان، تتمه احوال عادل شاه و انتقال سلنطنت هندوستان ، به جلال الدين محمد اکبر بادشاه.))

تراصلي متن وروسته د اختلاف قرا آت تر سرليک لاندې مدون او مصحيح هغه متني اختلافات ذکرکړي چي په دريوواړو اصلي نسخوکې يې د پرتليزې کتنې اوڅېړنې په

ترخ کې په ښه کړي دي ، وروسته په کتاب کې د راغليو اشخاصو د نومونو ليکلړ راغلی، بيا يې په څو مخونو کې د نامانوسه هندي او نورو ژبو کلمو معناګانې راوړې دي ، بيا غلطنامه ، ورپسې د کتابونو فهرست او د کتاب د موضوعاتو ليکلړ راغلی او په آخر کې د کتاب د مدون او ترتيب کوونکي مفصله سريزه ، چې په انګريزي ژبه يې ليکلې ، راغلې ده .
د مدون له وينا داسې ښکاري چې د تاريخ متن مدون لومړی له دووقلمي نسخو څخه ، چې په کلکته کې وې ، يوه يې د (( تاريخ سلاطين لودي و سوري )) په نوم اوبله د بوهر په پوهنتون کې د (( تاريخ سلاطين افاغنه )) په نوم موجوده وه ، ترتيب کړی، د چاپ تر دُرشله رسولی او ان تر۴۸ مخه يې کتاب چاپ کړی هم و ، چې د يوې بلې بشپړې نسخې پته يې په لاهور پوهنتون کې له پروفيسر حافظ محمد شيراني سره لګولې ، چې نوم يې (( تاريخ شاهي )) او د هغې يو فوتو سټيټ کاپي يې ترلاسه کړې ، دا چې هغه تر دې دواړو نسخو پوره ، کره او باوري وه ، نوځکه يې د کتاب تدوين لپاره هغه اصل ګرځولې ده ، له نوي سره يې پرې پرتلېزه څېړنه او سپړنه پيل کړې ،دا حاضرانتقادي متن يې ورڅخه ترتيب کړی او د نسخو اختلافات يې له لازمو توضحاتو سره په لمنليکونو کې راوړي او کتاب يې د تاريخ شاهي ( معروف به تاريخ سلاطين افاغنه ) په نوم چاپ کړی دی .

**۲ ) د تاريخ شاهي اردو متن**

د محمد هدايت حسين له خوا د(( تاريخ سلاطين افاغنه )) د فارسي متن له چاپ څخه ( ۵۴) کاله وروسته په لاهور کې يو ليکوال سيدنذير نيازي دغه اثر له فارسي متن څخه اردو ته ژباړلی او اردو ساينس بورډ ـ لاهور په ۱۹۸۵ ميلادي کال په ( ۴۰۰) مخونو کې د ډاکټر اصغر له بيا کتنې وروسته چاپ او خپور کړی دی .
اردو ژباړن پر کتاب کومه سريزه نه ده ليکلې ، د فارسي متن د مدون هغه ليکلې سريزه ، چې هلته د کتاب په پای کې په انګريزي ژبه راغلې وه ، هغه يې اردو ته ژباړلې او د کتاب په پيل کې يې له اوړده ليکلړ څخه وروسته هغه د اردو متن مله کړی او نور متن يې له ټولو حاشيو سره ژباړلی ، په ځينو ځايونو کې د فارسي مشکل لغات او د متن

ځينې توضيحات په اردو ژبه معنا کړي او پر ځينې موضوعاتو يې د ژباړن په حيث خپل د تائيد يا د رد نظر وړاندې کړی اومترجم يې ورسره ليکلي دي.
ښاغلي محمدالله ساپي د دغه تاريخ پښتو ژباړه له همدې اردو ژبې کړې ده ،چې وروسته به يې دروپېژنواو د کړي کار په څرنګوالي به يې هم لنډ بحث وکړو ، خو د هغې ترپېژندنې د مخه لازمه برېښي چې دلته تر ځانګړي سرليک لاندې د تاريخ سلاطين افاغنه د منځپانګې پر ماهيت ، اهميت او ځينو نورو ځانګړنو لنډه شننه او تحليلي ارزونه وکړو .

## د تاريخ سلاطين افاغنه د منځپانګې تحليلي کتنه

د دې اثر د منځپانګې د ماهيت او اهميت د څرګندولو په ترڅ کې لازمه ده چې لومړی يې دلته د ځينوځانګړنو، لکه : معنوي ،علمي ، ټولنېزو ، تاريخي ، سياسي ، ادبي ،ژبنيو، ارزښتونو جلاجلا يادونه او بيا يې ځينو خاميو ته هم انتقادي کتنه وکړو، چې په دې وسيله يې د معنوي ارزښتونو ترڅنګ نيمګړتياوې او کمزورتياوې هم لږ و ډېر تاسې درنولوستونکو ته درڅرګندې شي .

## تاريخي ټولنېز ارزښت او اهميت

په دې برخه کې د اثر ارزښت تر ډېرې د هغه د تاريخيت او پېښو د ټولنېز، سياسي اهميت او ماهيت له مخې څرګنديدای شي . له دې اړخه د احمديادګارتاريخ په موضوعي لحاظ په هندوستان کې د دوو سترو پښتني واکمنو کورنيو ( لوديانو او سوريانو ) واک ته رسيدو او د هغود حکومتونو څرنګوالي ياد واکمنانو د ټولنېز او سياسي نظامي چارچلندونو، د واک او اقتدار د پياوړتيا او پرمختيا او بيا خپل منځني اختلافاتو، خپلسريو په نتيجه کې د ړنګېدو، رانسکوريدو او له منځه تللو پېښې او حالات بيانوي . د يادونې وړده ، چې دا په موضوعي لحاظ په خپل ذات کې لومړنی او وروستی تاريخ نه دی ، بلکې له دې مخکې او وروسته ځينې نور تاريخونه يا تاريخ ډوله آثار شته چې هغه خپله پښتنو او يا نورو ليکلي او موږ د دغو واکمنو لړيو د حالاتو له بهيره په ورته لږ يا ډېر توپيري بڼه خبروي، چې دلته د بېلګې په توګه ؛ د عباس سرواني تاريخ شير شاهي ، د نعمت الله هروي مخزن افغاني يا تاريخ خانجهان لودي، د عبدالله تاريخ داؤدي، د خواجه مليز ي تاريخ افاغنه يا تاريخ خان کجو ، د شيخ رزق الله واقعات مشتاقي ، د يحيی ابن احمد تاريح

مبارک شاهي ، د خانجهان لودي مراة الافاغنه ، د افضل خان ختک تاریخ مرصع او داسې نوریادولی شو.

لکه څنګه چې دغه پورته یاد آثار ددغو واکمنو دورو د حالاتو او پېښو بیان په برخه کې یوشان او ترځنګ یې ځینې ځانګړي ارزښتونه لري ، دغسې د احمد یادګار تاریخ سلاطین افاغنه هم له ځینوداسې ارزښتونو برخمن دي چې هغه په نورو تاریخونو کې ډیر لږ یا په مناسب تفصیل نه دي راغلي، په ځانګړي توګه د لودي واکمنۍ د رانسکوریدو او بابرواک ته رسیدو او د واکمنۍ لومړیو کلونو پېښې ، د شیرشاه سوري د ژوند د وروستیو وختونو حالات ، د همایون دویم ځل واک ته د رسیدو او د جلال الدین اکبر د واکمنۍ د لومړیو کلونو پېښې په بل تاریخ کې په دغسې وضاحت او تفصیل سره نه دي راغلي . مؤرخ د تاریخ لیکنې د بنسټېزو اصولو له مخې د پېښو علتونه او د هغو معلولونه په ډیر ښه شان بیان کړي دي ، یادګارکه له یوې خواواک ته د رسیدو لپاره د لودیانو، سوریانو او نورو پښتني قبیلو مشرانو سرښندنې ، مېړانې او د دغو واکمنانو عادلانه چارچلندونه بیانوي ، نو ترځنګ یې هغه دوه مهم عوامل هم په ځغرده ښودلي چې دغه واکمنۍ یې پای ته ورسولې. لیکوال دغه عوامل له یوې خوا هغه پښتانه قومي مشران بولي چې ځانته یې خپل واک او اقتدار غوښته او له بلې خوا د دغو واکمنو کورنیو ( لودیانواو سوریانو) د ځینو واکمنانو ځان غوښتنې او مطلق العنانۍ فکرونه او خپل منځني کورني او قبیلوي اختلافات د دې لوی سبب ګڼي چې په هند کې یې د پښتنوسلطنت او واکمني پای ته ورسوله، دغه او داسې نور ډیر مسایل په دې تاریخ کې په وضاحت سره بیان شوي دي.

## ادبي او فرهنګي - کلتوري ارزښتونه

په دې تاریخ کې ګڼ شمېر ادبي او فرهنګي ارزښتونه هم خوندي دي . لیکوال که له یوې خوا د تاریخ په لیکلو کې په عام ډول ساده او روانه فصیحه او بلیغه فارسي ژبه کارولې ده ، نو ترځنګ یې د هغه وخت مروجه ادبي عالي انشاء ، چې کله کله پکې معنا په الفاظو کې ورکه وي ، هم له پامه نه غورځوي ، د بېلګې په توګه کله چې هغه دلودي کورنۍ بنسټګر بهلول لودي راپېژني، نو تمهید یې داسې وړدي : (( راویان اخبار ومنهیان اعصار که غواصان لجه معاني اند، لالی ابدارچنان در رشته بیان کشیده ، که بهلول برادر سلطان شاه لودی...)) (دري متن ۲ مخ )

او همدارنګه کله چې د سوري واکمنۍ بنسټګر شیرشاه سوري راپېژني، نو لیکي : (( راویان اخبار

و واهبان آثار و اخبار سریر مرکب خامه راچنان جولان داده اند، وقتی که سلطان بهلول به حکومت هند امتیاز یافت ، ابراهیم سور با پسرش حسن ارز ده به هندوستان آمد ... )) ( دري متن ۱۷۲ـ ۱۷۳ مخونه )

دغسې د عالي انشاء نورې ډېرې بېلګې يې په متن کې د پېښو او حالاتو د منظر کښنې لپاره هم ليدلی شو . د دې ترځنګ ځای پرځای ځينې خپل يا د نورو شاعرانو د اشعارو ځانګړي بيتونه ياقطعې او څلوريزې هم راوړي، چې دا د هغه د لوړ ادبي ذوق او پياوړي استعداد ښه استازيتوب موږ ته کولی شي . پردې برسيره يې ځينې پښتني کلتوري او فرهنګي ارزښتونه ، لکه: پښتنې خويونه او عادتونه ، ميلمه پالنه او هېواد پالنه ، ننګ غيرت او نور هم د پېښو او حالاتو د بيان په بېلابېلو برخو کې خوندي کړي دي.

### د تاريخ ځينې نيمګړتياوې او کمزورۍ

که تاريخ سلاطين افاغنه ( تاريخ شاهي ) پورته يادې او دغسې ځينې نورې ښېګڼې او غوره ځانګړنې لري ، نو ترڅنګ يې ځينې نيمګړتياوې او کمزورۍ هم مخې ته راځي ، چې ځينو ته يې ستاسې پاملرنه را اړوم :

لومړی خو دا چې ليکوال پخپله دا وايي ، چې تاريخ يې په بنګال کې د پښتنو د وروستي واکمن ابوالمظفر داؤد شاه په غوښتنه او هڅونه ليکلی دی ، حال دا چې نوموړی واکمن په ۹۸۴ هـ .ق ( ۱۵۷٦يا ۱۵۷۷ ميلادي) کال له مغلو سره په جګړه کې له ماتې وروسته بندي او بيا په شهادت رسيدلی دی . احمديادګارخپل تاريخ د کوم ناڅرګند علت له مخې ( ۳٦) کاله وروسته ( ۱۰۲۰ هـ .ق ) کال هغه مهال چې تر ده د مخه عبدالله تاريخ داودي ، چې ليکوال د هغه د داؤد شاه نامه ته منسوب کړی او تر ۹۸۳ هـ .ق پورې پېښې لري ، ليدلی او ځينې پېښې يې کټ مټ له هغه څخه راخيستې او په موضوعي لحاظ ورسره لږو ډېريوشان ښکاري او بل دا چې يادګاردا تاريخ داسې مهال ليکلی چې د مغولو واکمني په ښه زور او شور روانه ده ، د جهانګير د واکمنۍ زمانه ده ،نو ځکه يې د سلطنتي درباري اغيزې له امله په خپل تاريخ کې د بابر د واکمنۍ ، د همايون د دواړه ځلې واکمنۍ او د جلال الدين اکبر د واکمنۍ د لومړيو کلونو د مهال پېښې او حالات په ډېرتفصيل او توصيفي ډول له ډېرې مبالغې او ستاينو سره د درباري ادابو د رعايت کولو په ترڅ کې وړاندې کړي دي. احمديادګار د يوپښتون مؤرخ په توګه پرته له دې چې د پښتنو په

وړاندې د دغومغولو واکمنو د ظلم او زورزياتي چلندونه او نادودې وغندي ، په ځينو برخـو كـې يـې ستايي او هغو ته د عادل ، منصف ، غازي ، جنت مكان ، شاه حضرت گيتـي سـتاني ،عاليشـان او نور داسې القاب كاروي چې د پښتنو سره د ترسره كړو ناوړو چلندونو ته په پاملرنـه بايـد هغـه د يـو پښتون مؤرخ په ژبه هېڅكله ونه كارول شي ، خو احمد يادگارچې دا كار د هرعلت او اړتيا له مخې كړی ، موږ يې د ده نيمگړتيا او د اثر كمزورتيا گڼو او په كلكه پرې د نيوكو حق لرو.

د دې تاريخ يوه بله نيمگړتيا دا هم ده چې مؤرخ د پېښو په بيان كې د نېټو ښودنې ته ډېره پاملرنه ، نه ده كړې، د پېښو نېټې او سنې يې ډېرې كمې راوړې او ډېره تكيـه يـې پـر حكـايتونو او روايتونـو كړې او په ځينو ځايونو كې يې د پېښو او د واكمنو د مړينې او له واک څخه د راپرځيدو او يا قدرت ته د رسيدو په نېټو كې هم يو يا دوه كاله او د مياشتو توپير ليدل كېږي .

د دې تاريخ يوه بله مهمـه او د يـادونې وړنيمگړتيـا دا ده چـې د تـاريخ پـه بېلابېلـو برخـو كـې، پـه ځانگړې توگه د سلطان سكندر لودي ، سلطان ابراهيم لودي او اسلام شـاه سـوري د واكمنيـو پـه دورو كې د ځينو ځينو خارق العاده پېښو، د ځينو روحاني وگړو د كراماتو ، بركاتو او نورو حالاتو پـه اړه ځينې عجيبه پېښې د حكايتونو او راويتونو په بڼـه بـې د كـوم بـاوري تـاريخي سـند ، مـدرک او سرچينې له يادونې څخه راوړي ، چې د منطق او استدلال لـه مخـې يـې هـم د ځينـو پـه منلـو او باوركولو كې انساني سليم عقل ټكنی او د تأمـل وړحالـت غـوره كـوي، خـو دا نـه ده معلومـه چـې ليكوال دا په شعوري ډول په خپل تاريخ كې د ځانگړي خوند رنگ د پيداكولو لپاره كړي او كه يـې د خپلې بشري پوهې او مذهبي گروهې له مخې هغه د خپل تاريخ برخه گرځولې او يا يې له نـورو تاريخي آثارو، ليكلواو ژباړلو افكارو څخه په نافهمی سره رانقل كـړي دي. د هرعلـت لـه مخـې يـې چې دا كار كړی د اثر تاريخيت او علمي ، فرهنگي ارزښت يې را ټيټ او پيكه كړی دی .

له دې ټولو سره سره د دووسترو واكمنو لړيو ( لوديانو او سوريانو ) د واكمنيو او د وخت د حـالاتو او پېښو د پېژندلو او خبرېدو په برخه كې يې موږ داسې يو مغتنم او گټور اثر گڼلی شو، چـې هغـه لـه موږ سره د دغو مهالونو د تاريخ د ځينو تياره گوټونو پـه روښـانه كولـو كـې لازمـه او مناسـبه مرسـته كولی شي.

## د ((تاریخ شاهي)) پښتو ژباړه او ژباړن

د مخه مو دا یادونه وکړه چې احمدیادګار د ((تاریخ شاهي یا تاریخ سلاطین افاغنه )) په ۱۰۲۰ هـ .ق کال شاوخوا په دري ژبه لیکلی او پر ۱۳۵۸ هـ .ق کال د هندوستان په کلکته کې د محمد هدایت حسین په سریزه ، حاشیو او چاپ زیار خپور شوی دی . له همدغه متن څخه سید نذیرنیازي په ۱۹۸۵ میلادي کال اردو ته ژباړلی او په لاهور کې اردو ساینس بورډ چاپ کړی دی. ددغه اثر دپښتو ژباړې او ژباړن په اړه درسره یوه خاطره شریکوم، داسې چې ددغه تاریخ اردو متن یوه چاپي نسخه له دري لسیزو راهیسې زما په ځانګړې کتابتون کې وه ، چې د هغې له مطالعې څخه وروسته په دې هوډ او تکل شوی وم چې که ژوند راسره یاري وکړه او موقع برابره شوه ، نو پښتو ته به یې را ژباړم ، خو نه د هجرت په چاپېریال ( پښتونخوا ــ پېښور) کې د کډوالي په مهال او نه هم هېواد ته له بیرته راستنیدو وروسته د ګڼو علمي ـ فرهنګي بوختیاوو له امله راته دا موقع برابره شوه چې دا چاره ترسره کړم . تیر کال یوه ورځ زما نږدې او مخلص فرهنګي دوست ښاغلي محمدالله ساپي، چې ښه شاعردی ، درې شعري ټولګې یې، یوه د کډوالۍ پر مهال په پنجاب (سیالکوټ ) او دوه بیا دلته په هېواد کې خپرې شوي دي ، راته وویل: دا څو کاله مې په شعر او شاعرۍ کې خپل خدای راکړی استعداد او ادبي ذوق وازمایه، دومره پراخه مطالعه او تجربه نه لرم چې معیاري لیکوالي او څېړنه وکړم ، دوه درې لسېزې وخت مې په پنجاب کې تېر کړی ، په اردو ژبه ښه پوهېږم ، که کوم ادبي یا تاریخي کتاب وي چې زه یې پښتو ته راوژباړم او د خپلې فرهنګي مینې تنده پرې خړوبه کړم. ماته سمدلاسه (( تاریخ شاهي )) رایاد او د هغه د ژباړې هیله مې د دغه فرهنګي دوست پرمټ راته ترسره شوې ښکاره شوه. په دې شرط مې کتاب هغه ته وسپاره چې خپل استعداد پرې وازمایي ، خو دا چې د یوعلمي تاریخي اثر په ژباړه کې یې دا لومړنۍ تجربه ده ، له څو مخونو ژباړې وروسته به هغه ماته خامخا رانېسي چې لازمې ښودنې او سپارښتنې ورته وکړم . کله چې هغه د کتاب د لومړیو څو مخونو ژباړه زما د کتنې له پاره راوړه ، پرېاردو ژبې د تسلط او د خپل فرهنګي ذوق او پیاوړي استعداد له امله یې په ترسره کولو زما له توقع څخه ډېربرلاسی و ، نو ځکه یې لارښوونې او سپارښتنو ته ډیره لږه اړتیا درلوده. زه ډاډمن شوم او ځینې لارښوونې او لازمې سپارښتنې مې ورته وکړې او ورسره مې دا ژمنه هم وکړه چې وروستنۍ کتنه او له دري متن سره پرتلنه او مقابله به یې زه کوم .د افغانستان علومو اکاډمۍ یا کومې بلې خپرندویه

ټولنې یا اداري له خوا به ورته د چاپ لارې چارې هم برابروم .
ساپی صاحب لاس په کار شو او د خپل پیاوړي استعداد او لوړ ادبي ذوق په ملتیا یې پنځـه شـپږ میاشتې وروسته د ژباړلي اثر کمپوز شوې مسوده زما مخې ته کېښوده . ما په غور او د قت وکتلـه د تاریخ شاهي ( تاریخ سلاطین افاغنه ) اصلي فارسي متن له چاپي نسخې سره مې په پرتلېـز ډول د هغې ځینې برخې د اړتیا پر مهال مقابله کړې او لازم اصلاحات او سمونونه مې پکې راوستل ، تر دې چې ځینې هغه تېروتنې، چې د اردو ژباړن له خوا په متن کې شوې وې هغه مې هم د اصـلي فارسي متن په مرسته سمې کړې او کتاب د چاپ له پاره چمتو شو.
د خپلې کړې ژمنې له مخې مې کتاب د علومو اکـاډمۍ د پښـتو څېړنـو د بـین المللـي مرکـز پـه خپرنېزکلني پلان کې شامل کړ، خو لومړی یې د کرونا ناروغۍ له امله رامنځته شویو ستونزو او بیـا دعلومو اکاډمۍ خپرنیزو چارو لپاره د بودیجوي کمښت محـدودیتونو د چـاپ او خپـراوي کـار څـه موده له ځنډ او ځنډ سره مخامخ کړ، له نیکه مرغه چې دا دی سږ کال د افغانستان اسلامي امارت د فرهنګپالې خپرنیزې تګلارې له مخې دا ارزښتناک اثر چاپ او تاسې د علم او فرهنګ مینه والـو ته درسېږي. دلته د تاریخ او فرهنګ دمطالعې مینه والو تـه دازیـری هـم لـرم چـې ښـاغلی سـاپي صاحب چې کله خپل دا ژباړلی اثر چاپ ته چمتو کړی، نو یې دپښتنو پر یو بل مهم تاریخ((مخزن افغانی یا تاریخ خانجهان لودی)) په ژباړه لاس پورې کړ، هغه یې هم وژبـاړه، چـې ان شـاء اللـه پـه نږدې راتلونکې کې به دافغانستان د علومـو اکـاډمي د ژبـاړې مـلي مرکـز لـه خـوا چـاپ او چـاپي نسخې به یې د مطالعې له پاره ستاسې لاسونه ښکل کړي. زه د ژباړن او خپرندوی دا فرهنګپالنې ستایم، دواړو ته د چاپ او خپراوي د مبارکۍ تر څنګ د څښتن تعالی په دربـار کـې هغـوی تـه د نورو غوره علمي، فرهنګي خدمتونو د ترسره کولـو پـه لاره کـې د بریـالیتونو لـه پـاره د هیلـو او دعـا لاسونه لپه کوم .

**په درنښت**

**اکاډمیسین دوکتور سید محی الدین هاشمي**

**د افغانستان د علومو اکاډمۍ ـ د پښتو څېړنو بین المللي مرکز**

**کابل ، ۱۴۰۰ لمریز کال ، د وږي دېرشمه**

# سریزه

دا کتاب چې ستاسې په لاس کې دی،«تاریخ سلاطین افاغنه» په هندوستان کې د پښتنو واکمنانود تاریخ په نامه مشهوردی ، خو زما په اند دې کتاب ته ([1]) شاهي تاریخ ویل اړین ښکاري ،دا اثر له ډېروښیگڼو څخه برخمن دی،ځکه چې په دې اثرکې په هند کې د بابر د پاچاهۍ دورستیو ددوو کلونو یادښت ، او په هند کې د پښتنو د واکمنانو د ژوند پېښې په کره او بشپړ ډول کښل شوې دي. په دې تاریخي اثر کې د بهلول لودي له(۸۵۵ هـ ــ ۸۹۴ هـ ) ( ۱۴۵۱م ــ۱۴۸۸م کال پورې )د بهلول زوی سکندر (۸۹۴ هـ ــــ۹۲۳هــ/ ۱۴۸۸م ـــ۱۵۱۷م)، د سکندرلودي زوی ابراهیم ( ۹۲۳هــــ ۹۳۰هــ / ۱۵۱۷ م ــ۱۵۲٦م)، شیرشاه سوري ( ۹۴٦هــ ـــ ۹۵۲ هـ / ۱۵۳۹ م ـــ ۱۵۴۵ م)، اسلام شاه ( ۹۵۲ هــ ۹٦۰ هــ )( ۱۵۴۵م ـــ ۱۵۵۲م)، فیروزشاه چې یواځې دوه میاشتې یې واکمني وکړه، ( ۹٦۰ هـ / ۱۵۵۲م) عادل شاه (۹٦۰ هـ ــ ۹٦۱هـ) ( ۱۵۵۲ م ــ ۱۵۵۳م)، ابراهیم سوري ( ۹٦۱هــ ــ ۹٦۲هــ) ( ۱۵۵۳م ــ ۱۵۵۴م) او سکندر شاه ( ۹٦۲هـــــ ۱۵۵۴م) ددې ټولو واکمنانو د واکمنۍ په موده کې ټولې تاریخي پېښې په کره او بشپړ ډول ډول سره لیکل شوي دي .تر دې پرته، بابر( ۹۳۲هــــ ـــــ ۹۳۷ هـــ / ۱۵۲٦م ـــ ۱۵۳۰م) همایون (۹۳۷هـ ــ ۹٦۳هــ ) ( ۱۵۳۰م ــ ۱۵۵٦م) ــ ۹٦۴هــ ــ ۱۵۵٦م) او اکبر چې کله هیمو ته ماتې ورکړه او بریمن ډیلي ته ننوت ( ۹٦۳هـ ـــ۱۰۱۴هــ ) ( ۱۵۵٦م ــ ۱٦۰۵م) ) یادونې هم په بشپړ ډول راغلې دي. که څه هم د مغولو ددرې واکمنانو د مهمو پېښو یادښت ددې اثر د مؤلف بنسټیزه موخه او هدف نه و، خو لکه څنگه چې دوی د پښتنو د ځینو واکمنانو دسلطنت پرمهال له نوموړو سره په نښتو کې ښکیل شوي وو،نو په دې اثر کې د پېښو د تسلسل په پار لیکوال اړ و، چې د مغولو درې واکمنانو ته د خپل اثر په منځپانگه کې ځای ورکړي . ددې اثر لیکوال

---

۱- خو زما په اند دې تاریخ ته د ډیرو دلایلو له امله د پښتنو تاریخ ویل اړین ښکاري (اردو ژباړن )

احمد يادگار نوميږي. سربېره له دې اثر څخه، چې په سريـزه کـې يـې د ځـان پـه اړه لنډشان معلومات ليکلې دي . نور هېڅ ډول معلومات زموږ په لاس کې نه شته. نومـوړی د بنگال د وروستي پښتون واکمن د سلمان زوی داؤد شاه ( ۹۸۴هـ) په دربار کې دنـده درلوده. دا ستاسې په لاس کې کتاب نوموړي دداؤد شاه پـه پـه امـر او غوښـتنه ليکلـی دی.لکه څنگه چې منهاج الدين جوزجـاني دطبقـات نـاصري (۲)پـه نـوم اثـر. او ضـيا

۲ ـ طبقات ناصري يو هر اړخيزاو جامع اثر دی ،چې له لرغونې زمانې څخه نيولې تر ( ٦٥٨هـ ) کلونو پورې، کومې بنسټيزې او مهمې پېښې چې په دې سيمه کې رامنځ ته شوي دي . طبقات ناصري هغه ټولې د کتاب په منځپانگه کې رانغښتي دي .او په دې لړ کې يې په ځانگړي ډول د هغوشاهي کورنيو او واکمنانو په اړه يادونه کړې ده . کوم واکمنان چې په غزني ، غور او په هندوستان کې په شپږمې او اوومې هجري کې لوړو پوړيو ته پورته شوي وو. ددې تاريخ ليکوال د سراج الدين زوی منهاج الدين جوزجاني نومېده. نوموړي په ( ۵۹۸ هـ کال )نړۍ ته خپلې سترگې پرانيستی .دسام زوی د سلطان غياث الدين لور او د منهاج الدين رضاعي خورشهزادي ماه ملک په حرم کې په ځانگړې پاملرنې سره رالوی شو.په (٦٢۴هـ) کال کې هندوستان ته راغی. او د اوچ په سيمه کې چې په هغه موده کې د سلطان ناصرالدين قباچه د واکمنۍ پلازمېنه وه استوگنه غوره کړه .کله چې د التمش په لاس د قباچه واکمني ړنگه شوه ،نو نوموړی هم د نوي واکمن پسې ډيلي ته راغی ،او هلته د التمش او د هغه د ځای ناستو په واکمنۍ کې د سترې محکمې قاضي القضات وټاکل شو، دژوند د پای تر شېبو يې خپله دنده په برياليتوب سره پرمخ يوړه ( ايليټ په هندوستان کې په خپل تار يخي اثر کې چې تاريخ هند نوميږي، په دويم ټوک کې د( ۲٦۰) څخه تر ۲٦۱ )مخونو پورې د نوموړې د ژوند په اړه يو څه رڼا اچولې ده . د تاريخ طبقات ناصري د کتاب عنوان ؛ د التمش زوی د ناصرالدين محمودشاه (٦٢۴ــ-٦۴۴هــ )د نوم سره تړاو لري .دا کتاب په کال(٦٥٨ هــ ) کال دشوال په مياشت کې بشپړ شوې دی . ددې تاريخ يوه برخه له يوولسم څپرکي څخه نيولې تر دوه وېشتم څپرکي پورې چې د هندوستان د تاريخ پورې تړاو لري.دا ټول څپرکي په ( ۱۸٦۴م) کال دکلکتې په ښار کې کپتان ناساوليس د ببليوتهيکا انډيکا په مطبعه کې چاپ کړي دي .او بيا له کپتان ناساوليس څخه وروسته ميجر ايچ – جي راورټي د لومړي او له شپږم څپرکي څخه پرته د طبقات ناصري تاريخ په بشپړ ډول انگليسې ژبې ته ژباړلی دی ،چې د هماغه کلونو په موده کې په مطبوعاتو کې چاپ شوې هم دی . ايليټ په تاريخ هند دويم ټوک( ـــ۲٥٩( ٣٨٣ ) مخونود طبقات ناصري له تاريخ څخه ټکي په ټکي د خپل کتاب لپاره گټه پورته کړې ده . د لا ډېر ومعلوماتو لپاره ، وگورئ :اخبار الاخبار ، ۷٩ )مخ حاجي خليفه څلورم ټوک ٥٣ مخ) اومر د ميونخ ليکلړ ، (٦٧ مخ) ريو فهرست برټش ميوزيم لومړی ټوک مخ٧٢ ) ايتهي انډيا افس شماره ۱۴ ) ايتهي فهرست بوډلين ۱٦ شماره )او عبدالمقتدر فهرست بانکي مور ټوک دويم ٥۰مخ ۰ تاريخ فيروز شاهي د هند دواکمنانو تاريخ دی .ددې تاريخ په منځپانگه کې د واکمن غياث الدين بلبن (٦٦٢هــ) کال له تاجپوشۍ څخه نيولې د فيروزشا( ٧٥٨هــ ) کال د واکمنۍ تر شپږم کال پورې ټولې هغه مهمې تاريخي پېښې چې په دې کلونو کې په دې سيمه کې رامنځ ته شوي دي .په دې اثر کې ورته ځای ورکړل شوې دی . ددې تاريخ ليکوال ضياالدين برني نومېده ،چې د نوميالي صوفي خواجه ، پاتې په بل مخ

دبل مخ پاتې ، نظام الدين اوليا ء(٧٢٥هــ )(۱٣٢۴م ) کال له ځانگړې پاملرنې څخه هم برخمن و. نوموړي په (٦٨٣هـ) (۱٢٥٨م ) کال کې نړۍ ته سترگې پرانيستې .دخپل عصر دوديز علوم يې زده کړل . دخپل عصر دلويو(→)

---

(←) عالمانو سره يې ناسته پاسته درلوده ،او هم يې د امير خسرو او مير حسن چې دخپل عصر لوی عالمان وو، ددوی سره يې هم ډېرې نږدې او دوستانه اړيکې درلودلې .نوموړی د اټکل له مخې په كال( ۷۵۸هـ) (۱۳۵۷م ) كال او يا تردې نېتې يو څه موده وروسته په حق رسيدلی دی .چې له مړينې وروسته د خپل روحاني مرشد په زيارت كې خاورو ته سپارل شوې دی .

وګورئ :اخبارالاخبار( ۱۷۷ مخ ) ايليټ تاريخ هند دريم ټوک( ۹۳ مخ) او څلورم ټوک( ۴۸۴ مخ) ريو فهرست برټش ميوزيم دريم ټوک (۹۱۹ مخ) ايتهې فهرست انډيا افس ۲۱۱ شمېره ) ايتهې فهرست بوډلين له (۱۷۲ شمېرې څخه )نيولې تر (۱۷۴) شمېرې پورې او د عبدالمقتدر فهرست بانكي پور ۷ټوک ۲۶ مخ،،،له دې څخه پرته ايليټ د خپل اثر د پنځم ټوک په لومړي مخ كې داسې وايي . چې نوموړي ليكوال د ( برسبيل تذكره دلېكنې له مخې )كله چې د ګجرات په جګړه كې ميرزا عسكري د همايون له لورې د جګړې بولندوی ټاكل شوې و، د نوموړي پلار د ميرزا عسكري سره دوزير دنده درلوده .

د ايليټ دا بيان د بلوخ من له ليكنې څخه كټ مټ رانقل شوې دی. بيوريج هم په جرنل ايشيا ټک اف بنګال نوې لړې ټوک ۱۲( ۱۹۱٦م كال ) ۲۸۷ مخ) كې هم داسې ليكلي دي چې د نوموړي پلار د همايون دورور ميرزا عسكري سره دنده درلوده بيورج دا قول په دې جمله ولاړ دی .

اين ضعيف از پدر خود كه در ان زمان وزير ميرزا عسكري بوده شنيد كه در نيم روز كه هوا درغايت حرارت بوده ګجراتيان از احمد اباد بسرعت رسيدند،،،» ،دا ليكنه د فارسي متن په( ۱۴۳ مخ )كې راغلې ده په اصل كې ليكوال د همايون دو اكمنۍ پوره تاريخ ټكي په ټكي له طبقات اكبري څخه رانقل كړی دی ، په دې تاريخ كې دا جمله چې پاس يې موږ حواله وركړه، هم داسې راغلې ده. د لاډېرو معلوماتو لپاره وګورئ :دويم ټوک( ۳۷ مخ) د پورتنې جملې په لوستلو سره بلوخ من ايليټ او بيوريج ديوې داسې تيروتنې سره مخ شوي دي ،چې ګواكې د تاريخ شاهي كتاب ليكونكی د ميرزا عسكري د وزير زوی و، خو داخبره د ځان سره ياد وساتئ چې دا جمله خپله د ليكوال نه ده بلكې له طبقات اكبري څخه يې ټكي په ټكي رانقل كړې ده، لكه څنګه چې موږ يې پاس يادونه وكړه ،د نوموړو ليكوالانو له ليكنو څخه داسې څرګنديږي چې احمد يادګار د تاريخ شاهي ليكونكی نه دی .

خو له تاريخي څېړنو څخه داسې څرګندېږي ،چې نظام الدين هروي د طبقات اكبري ليكوال د ميرزا عسكري وزير و،مؤرخ پخپلو دوو تاريخي كتابونو لكه (تاريخ نظامي ) او ( معدن الاخبار ) د اخذليكونو په بنسټ خپل دلايل وړاندې كړي دي .

تاريخ نظامي په اصل كې ،د طبقات اكبري د نظام الدين بن مقيم الهروي تصنيف دويم نوم دی. د نوموړي د نسب سلسله د هرات نوميالي صوفي خواجه عبدالله انصاري ( ۴۸۱ هـ ) (۱۰۸۸م) كال ته رسيږي .د نوموړي پلار خواجه مقيم هروي په ترتيب سره د بابر دديوان خانې مشر و، او بيا چې كوم مهال ميرزا عسكري د ګجرات د صوبې والي و، نوموړي يې دوزارت دنده په لاس كې درلوده، وروسته د اكبر دلاس لاندې يولوړ پوړی فوځي منصبدار و، د اكبر د واكمنۍ په نهه دېرشم كال د پنځه څلويښت كلونو په عمر په كال (۱۰۰۳ هـ ) ( ۱۵۹۴م ) كال ځان حق ته وسپاره، د نوموړي ليكل شوې تصنيف په درېوو نومونو، پاتې په بل مخ كې ،

دبل مخ پاتې ،شهرت تر لاسه كړ، طبقات اكبرشاهي ، طبقات اكبري او تاريخ نظامي .

فهرست مخفوظات فارسی ( ج ۱،۲۲۰ )مخ كې ليكلي دي:(طبقات اكبري) دهندوستان له ټولو عمومي تاريخونو څخه ډېر لرغونی او په دې موضوع كې د راتلونكو ټولو تاريخونو بنسټ له همدې اثر څخه پيل شوی دی.

(طبقات اكبري )دببليوتهيكا انډيكا لړد بنګال په ايشيا ټک ټولنې كې په درېوو ټوكو كې چاپ شوی دی،دا كتاب(←)

برني د تاريخ فيروز شاهي په نوم اثر د خپلو واکمنانو په امر اوغوښتنه ليکلی و،داؤد شاه هم همداسې يوه هيله درلوده، چې په هند کې دپښتنو واکمنانو په اړه دې همداسې يو جامع او هر اړخيز تاريخ وليکل شي.احمديادګار ددې تاريخ ليکوا ل په خپل اثر کې تاريخي نېټې په کره او صحيح ډول په پام کې نه دي نيولي .نوموړي د هر پښتون واکمن دو اکمنۍ په پای کې خيالي او په ځينو ځايونو کې له حقيقت ډېرې لرې کيسو ته په خپل کتاب کې ځای ورکړی د ی ، نوموړوپښتنو واکمنانو چې د خپلې و اکمنۍ په پای کې کومې د پام وړ او ګټورې لاس ته راوړنې له ځان سره نه درلودې، ليکوال هڅه کړې چې خپل تاريخي اثر ته دلوستونکود پام رااړولو لپاره د کتاب په منځپانګه کې پر ځينواوتو بوتو سر شي . حيرانوونکواو د تأمل وړ کيسو ته ځای ورکړي .

اوتر دې سربېره نوموړي د فارسي پر ځای په ځينو ځايونو کې خپل کتاب کې د اردو ځينې جملې هم کارولي دي مسټر بيوريج په جرنل ايشيا ټک سوسايټي اف بنګال ( سلسله جديد ) ټوک ١١، ١٩١٦م کال په ٢٨٩ مخ ).کې داسې ليکلي دي، چې د اټکل له مخې ددې کتاب ترټولوارزښتناکه او ګټوره برخه هغه ده ،چې د بابر د واکمنۍ ددوو کلونو يادونه پکې شوې ده .داسې ويلی شو چې له دې اثرڅخه دتوزک بابري ، فرشته ، او « ابو الفضل»د ضميمې کار ورکړی دی .

لکه څنګه چې پروفيسر ډاوسن هم د خپل کتاب د (٤٢ ) مخ په حاشيه کې ليکلي دي: د مندهرانو پر خلاف د بابر له لورې دبريد يادونه په يوه بل کتاب کې نه ده شوې، او که چيرې د احمد يادګار دااثر زموږ په لاس کې نه وای ،نو موږ څنګه پوهېدلای شو، چې بابر په هند کې د خپلې واکمنۍ په درېيم کال يعنې (٩٣٥هـ) کال لاهور ته

---

(←) انګليسي ژبې ته (مسټر بي ډې ) ژباړلی دی.ددې کتاب دوه ټوکه چاپ شوي دي او درېيم ټوک د چاپ په درشل کې دی .ددې اثر د مؤرخ او تصنيف په اړه لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ:، بدايوني ،منتخب التواريخ(دويم ټوک ٢٩٦مخ) ايليټ کتابياتي اشاره ( لومړی ټوک (١٨٠ــ ١٨٤مخ ) ( ايليټ ):د هند تاريخ پنځم ټوک ١٧٧ـ٤٧٦) چې په دې کې د انګليسي ژبې ښه ډېره ژباړه هم شامله ده .، فهرست مورلې (٥٨ مخ )

طبقات اکبري او (٣) تاريخ نظامي «معدن اخبار » نه د مصنف نغوته د اټکل له مخې د ( معدن اخبار احمدي ) څخه دی . نوموړی کتاب احمد د ببل زوی او د جمال کمګو لمسي تصنيف کړی دی، چې د کنبو په نوم سره يې هم شهرت درلود ، دا د نړۍيو عام تاريخ دی ، او دجهانګير د واکمنۍ په دوران ( ١٠٢٣هـ) ــ ( ١٦١٤م) کال کې ليکل شوی دی ، دې کتاب ته په ځينو وختونو کې ( معدن اخبار جهانګيري هم ويل شوي دي ،

راغلی و. او يا داچې بابر په سرهند کې د راجا کهلوار سره ليده کاته هـم کـړي دي . او د کرنال ولسوالۍ د کهيتل په سيمه کې د منداهرانو پر خلاف دسيمې امنيت لپاره يـې اړين گامونه اخيستي . ددې کتاب په منځپانگه کې د پښـنتو واکمنـانو پـه اړه لـه ځينـو داسې تاريخي پېښو سره هم مخ کېږو،چې په نـورو تـاريخونو کـې يـې څـرک نـه ليـدل کېږي، .د بېلگې په توگه : شيرشاه ولې پريکړه وکړه، چې د کالنجر پر کلا بريـد و کـړي. او داسلام شاه د زوی فيروز شاه د واکمنۍ موده درې ورځې نه وه، بلکـې تـردوو مياشـتو پورې غزيدلې وه . او همداسې نورې تاريخي پېښې، خو ددې کتاب په مقابل کې چـې هر څومره د مغولو مؤرخين تېر شوي دي ټولو په گډه د فيروز شاه د واکمنۍ مـوده درې ورځې ښودلې ده . او زما په اند د مؤلف دا بيان د باور وړ دی. همداسـې کرنـل وليـزلي هيگ په خپل کتاب کيمرج هسـټري اف انـډيا (څلـورم ټـوک، ٦۴مـخ ) د فيـروز شـاه د مړينې پېښه همداسې بيان کړی ده ،لکه څنگه چې يې موږ په دې تاريخ کې لوستلی شو ،غربي مؤرخينو، د بېلگې په ډول وېنسنټ ای سمت ) اکبر مغـول اعظـم ۳۹مـخ) او فان نوېر قيصر اکبر( لـومړی ټـوک ١١٦مـخ ) پـه يادداښـتونو کـې د هيمـو د وژلـو پېښـه همداسې راغلې ده. لکه په دې کتاب کې يې ، چې يادونه شـوې ده ،.خـو زمـا پـه انـد نوموړی د بيرم خان په لاس وژل شوې دی . په دې اړه دلاډېرو معلومـاتو لپـاره وگـورئ: زما بشپړه ليکنه ددې کتاب په (۳٦۴ مخ کې) په کلکته کې د تاريخ شاهي دوه قلمـي نسخې شـته: يـوه يـې د «تـاريخ سـلاطين لـودي اوسـوري» پـه نـوم . د فـارسي ژبـې د کتابونوپه ليکلړ کې (په رايل ايشيا ټـک سوسـايټي آف بنگـال پـه (١١۴) شـمېرې سره خوندي ده، او بله قلمي نسخه يې په بـوهر کتـابتون کـې موجـوده ده، چـې د امپريـل کتـابتون يـوه برخـه ده ، د دې قلمـي نسـخې شـمېره (٦٢) او د کتـاب عنـوان « تـاريخ سلاطين افاغنه »دی . ايليټ هم د هند په تاريخ هنـد کـې (پـنځم ټـوک لـومړی مـخ ) کـې همدغـه عنـوان کـارولی دی .د کلکتـې دا دواړه نسـخې ډېـرې سره ورتـه دي . او داسې بريښي چې يوه نسخه له بلې نقل شـوې ده ،ځکـه چـې ددواړو نسخو پـه مـتن کې ډېر کم اختلاف ليدل کېږي اوبيا دواړه نسخې يو ځای په يوه مقام کې سـملاسي پای مومي. د برټش په ميوزيم کې ددې کتاب يوازې (١٦) پـاڼې شـته ،چـې د همايـون

له تاجپوشۍ څخه نیولې (۹۴۹هـ )د نوموړي بابا حاجي تر راتللو پورې پېښې پکې ځیړل شوي دي. وګورئ: د فارسي متن (۱۷۱مخ)د ریو فهرست فارسي درېیم ټوک ۹۲۲ مخ) کې هم ددې کتاب په اړه یادونه شوې ده. سرایچ ایلیټ لیکلي دي ،چې داکتاب د داؤدي تاریخ په پیروۍ لیکل شوې دی . داؤدي تاریخ هم د لودي او د سوري کورنیو تاریخ دی . په نوموړي کتاب کې دبهلول لودي له واکمنۍ څخه نیولې د داؤد شاه تر مړینې پورې ټولې مهمې پېښې راغلي دي . عبدالله داکتاب د جهانګیر د واکمنۍ پر مهال (۱۰۱۴هـ ــ ۱۰۳۷هـ )کې بشپړ کړی دی . میجر ډبلیو ناساو لیس جرنل اف دي رایل ایشیا ټک سوسایټي نوې لړۍ درېیم ټوک ) ۱۸٦۸م کال ( ۴۴۷ او ۴۴۸ )مخونه ددې کتاب په سریزه کې له تاریخ داؤدي څخه ځینې بېلګې راخیستې دي. اوبیا یې داسې لیکلي، دا دواړه کتابونه د لودي او سوري کورنیو دوه بېلا بېل تاریخونه دي،چې په یوې زمانې پورې تړاو لري، خو میجر لیس دې اثر ته ډېر ارزښت ورکړی دی ،څکه چې نوموړي په (۱۸٦۸م کال) کې د ببلیو تیهکا د خپرولو لپاره دا کتاب غوره کړ . هغه داسې وایي وګورئ (۴۴۷مخ):،،،راتلونکی تصنیف یعنې،« تاریخ افاغنه» چې ما غوره کړی دی. او ددې په اړه ماڅکه سپارښتنه کړې ، چې له طبقات ناصري او تاریخ فیروز شاهي څخه وروسته په هند کې بل کوم د پام وړ تاریخ نه دی لیکل شوی، ددې تاریخ لیکوال احمد یادګار اړوېستل شو چې دا تاریخي اثر ولیکي .سبحان رای په خپل اثر خلاصة التواریخ کې ،چې پر( ۱۱۰۷ هـ) کې یې لیکلي، او په دویم ځل په ډیلي کې په کال(۱۹۱۸م) کې چاپ شوې دی . په خپل کتاب کې د« تاریخ افاغنه »په نوم دیوه تاریخ یادونه کړې ده ،چې دحسن خان په نوم کوم پښتون لیکلی و .د بهلول او د هغه له ځای ناستوڅخه د شیرشاه سوري اود هغه د ځای ناستو پورې ټولې تاریخي پېښې یې په خپل تاریخ کې بیان کړي دي ،خو که ښه ځیر شو دا د یو بل مؤلف یو بل بلکل جلا تصنیف دی ،که څه هم دواړه تاریخونه او موضوع یې تر یوه حده یو ډول دي.دا کتاب لا په مطبعه کې د چاپ لاندې و، او تر( ۴۸) مخونو پورې چاپ شوی هم و،چې د ډیلي د سینټ آستیفن کالج پروفیسور شمس العلماء عبدالرحمن ماته خبر راکړ، چې د لاهور په پوهنتون کې له پروفیسور

حافظ محمد شیراني سره ددې کتاب یوه بله قلمي نسخه هم موجوده ده، ددې خبر پـه اوریدو مې په بیړه له نوموړي پروفیسر سره اړیکې ټینګـې کـړې، او پـه امانـت ډول مـې ترې ددې کتاب غوښتنه وکړه ،کـور يـې ودان پروفيسر- شـيراني هـم پرتـه لـه ځنـډه پـه ډېرورين تندي اود مهربانۍ له مخې خپله قلمـي نسـخه مـا تـه پـه واک کـې راکـړه. لـه لوستلو وروسته راته جوته شوه، چې دا قلمي نسخه د کلکتې تر دواړوقلمي نسخو ډېـره معتبره اود باور وړ ده. دا قلمي نسخه په ناڅاپي ډول هم نه ختمیـږي . مـا هغـه (۴۸) مخونه چې چاپ شوي وو.له دې قلمي نسخې سره پرتله نه کړل. بلکـې چـې پـه کومـو مخونو کې اختلافي جملې راغلـې وې، هغـه مـې هـم پـه حاشـیو کـې ولیکلـې، خـو تـر (۴۹ مخ) وروسته ما له درووارو نسخو څخه ګټه پورته کړې ده .د لاهوري قلمـي نسـخې له لیکلي عنوان څخه داسې بربښـي ، چـې ددې کتـاب نـوم« تـاریخ افاغنـه» نـه بلکـې تاریخ شاهي دی او یا« تاریخ سلاطین لودي وسـوري» . ایلیـټ او تـر هغـه مخکـې چـې کومـو مؤرخینـو تـه ددې کتـاب کـومې قلمـي نسخې پـه لاس ورغلـې وې ، هغـه ټـولې نیمګړې وې. نـو نومـوړو د کتـاب د منځپـانګې لـه لیـدلو وروسـته ددې کتـاب لپـاره د« تاریخ افاغنه »او یا« سلاطین لودي او سوري» عنوانونه غوره کړي وو. په لاهـوري قلمـې نسخه کې « تروالله اعلم بالصواب »وروسته چې کوم نظم لیکل شـوې دی. هغـه زمـا پـه اند د کتاب مصنف نه دی لیکلی، بلکې کوم خطاط لیکلـی دی. زمـا پـه انـد کتـاب پـه هغې عربي جمله پای مومي، چې له دې نظم څخه مخکې راغلـې ده. دا قلمـي نسـخه داسې یوه چا خطاطي کړې ده چې شـاعر هـم و او پـه فـارسي ژبـه کـې يـې لـوی لاس درلود. د کتاب په پای ته رسیدو سره د(۱۶۴۴م) نېټه لیکل شوې ده.زه د زړه له کـومې له نومیالي مستشرق پروفیسر حافظ محمـود شـیراني څخـه مننـه کـوم چـې نومـوړي د ډېرې لورینې او پیرزوینې له مخې خپله قلمي نسخه زما په واک کـې راکـړه. کـه چیـرې د نوموړي قلمي نسخه زما په واک کې نه وای ،نو ددې کتاب اصلاح او سـمون چـارې په داسې ښه توګه نه تر سره کیدلې،او نه به دمیجر لیس وړاندیز او سپارښتنو ته عملي جامه وراغوستل شوې وای ،هیله من یم چې دا تاریخ به تر یو څـه حـده وکـړای شي د هند د تاریخ ځانګې د زده کړې یالانو لپاره د هند د تاریخ پـه پوهـاوي کـې مرسـتندوې

شي.په پای کې  د رایل ایشیا ټک ټولنې دجنرال سکرټري  مسټر یوهان فان مانن له مرستې او همکارۍ څخه دزړه له کومې مننه کوم او تاسې محترم لوستونکي ددې کتاب لوستلو ته رابولم.

**محمد هدایت حسین**

**رایل ایشیا ټک سوسایټي بنګال**

**۱۹۳۹ م کال د اپریل میاشت، کلکته**

## بسم الله الرحمن الرحيم

شکر او مهرباني له هغه حق واجب الوجود لوی ذات نه، چې قلم د هغه له تعریف څخه عاجزاو ژبه يې د ستاينې نه بې واکه او گونگه ده:

خـــدايا تـــوېی خـــالق انـــس وجـــان
بحکـــم تـــو شـــد ملـــک وديـــن تـــو امـــان
برافـــراخت اعـــــــلام اقبـــال و جـــاه
يکـــې شـــــــد پيمـــبر يکـــې بادشـــاه
تـــو بخشيــــ هـــدايت بـــه ديـــــن پـــروري
د هـــــــــی تـــاج شـــای بهـــر ســــــروری(۳)

د هغه مهربانه او بخښونکي رب په نامه يې پيلوم چې خپل بنده گان يې د خير او شر او دهغو وگړو چې په تيرو وختونو او پېړيـو کـې لـه دې فـاني نړۍڅخـه رښـتيني نـړۍ تـه کوچېدلي دي له کړنو او عملونو څخه خبر او اگاه کړي دي،تر څو چې د دوی دتـر سره کړو کړنوڅخه د عبرت او پند درس واخلي .او ددې فاني نړۍ ښېگڼې او بد گڼې چې په تېرو وختونو کې تر سره شوي او يا تر سره کېږي ولولي ، واوري يو څه په هوښ راشي او راوېښ شي . او له نړۍ څخه د کوچېدلواو يا تيرو وگړولکه داوامراونواهې(٤)، تـه پـام وکړي د عقل اوشعور لمن ونيسي. او بې پايانه درود په محمد صلی الله عليه وسلم چې مبارک ذات به يـې د محشر- پـه ورځ د خپـل امـت شـفاعت غوښـتونکی وي. لـه درودە وروسته زه احمد يادگارچې په گناهونو کې له سره تر پښو ډوب يم او د خدای (ج) لوی دربار ته ډېر هيله من او لا د لوی رب د رحمت او بخښنې په اميد يم.د خپلـو خـبرو لړۍ داسې پېلوم :

يوه ورځ چې موږ يو څو کسان د ابو المنظفر داؤدشـاه (۵)پـه مبـارک حضـور کـې ناسـت

۳ ـ ای خدايه تاسود انس وجان خالق يې هر څه ستاپه حکم تر سره کيږي عزت او ذلت ستاسې له جانبه دی .څوک پيغمبر کوې او څوک پاچا کوې تاسو دين پالونکو پاچاهانو ته هدايت کوئ او سرورانو ته دپاچاهۍ تاج وربخښئ.

٤ ـ وگورئ د اختلاف قرآت ،،،، اردو ( ژباړن )

۵ ـ داؤدشاه بن سليمان د بنگال وروستی پښتون واکمن د واکمنۍ زمانه (۱۵۷۲ــ۱۵۷٦م)وگورئ د مرتب دیباچه ،

مجلس او بنډار مو کاوه . د خبرو پر مهال د حمزه آصف خاني په تاريخي اثر په مجلس کې د ناستو کسانو تر منځ خبره راغله . په دربار کې ناستو کسانو هر چا د خپل فکر په توان د تاريخ په دې کتاب ترخپلو شننو او نظرځرگندولو وروسته دقدر وړ مشر۔ ښاغلي داؤد شاه ماته مخ راواړاوه او ويې ويل:(منهاج الدين جوزجاني) يو تاريخ د سلطان ناصرالدين په نوم چې د پلار نوم يې شمس الدين التمش دی .د آدم له دورې څخه نيولې بيا د سلطان د واکمنۍ تر دورې پورې يوهر اړخيزاو جامع اثر ليکلی دی .تر جوزجاني وروسته ضيا برني د سلطان غياث الدين بلبن له پاچاهۍ څخه نيولې د سلطان فيروز شاه د واکمنۍ تر مهاله د تاريخ فيروز شاهي په نوم يو پنډ او جامع تاريخ ليکلی ، چې د خپل وخت د اتو پاچاهانو دواکمنۍ پر مهال مهمو پېښو ته يې د خپل تاريخي اثرپه منځپانگه کې ځای ورکړی دی.خو بل مورخ له امانت خان څخه پرته د ډهلي پر تخت ناست د پښتنو واکمنانو او امپراطورانو تاريخ چې د پوپنا کېدو او له هېرېدو څخه وژغورل شي. او په امانت ډول د تاريخ پاڼو ته وسپارل شي، نه د ی ليکلی او دا به څومره غوره او د پام وړ کار وي که څوک داسې بنسټيز کارته ملا وتړي او لاس په کار شي ،داچې زه ددې درگاه له ډېرو پخوانيو خدمت گارانو له ډلې څخه يم .او ددې درنې کورنۍ د نېکيو ډېر پوروړی يم د داؤد شاه وړانديز او غوښتنې ته مې د رد ځواب ورنه کړای شو. او بيا مې دې درونډ بار ته خپله اوږه ورکړه. په ډېر زيار او کوښښ سره په دې وتوانېدم . چې په هند کې د شېرو واکمنانو پېښې او واقعات د کتاب په منځپانگې کې ځای پر ځای کړم. او دنوموړو واکمنانودو اکمنۍ په موده کې چې کومې مهمې او بنسټيزې پېښې رامنځ شوي دي،هڅه مې کړې چې هغه ټولې په رښتينې ډول د کتاب حافظې ته وسپارم. اوتر خپلې مړينې وروسته يو يادگار تر شا پرېږدم ،التوفيق من الله الودود. دا چې په هند کې د پښتنو تاريخ له بهلول لودي څخه پيلېږي، نو په همدې خاطر پيلامه د نوموړي په پيژندنې سره کوم او مخ په وړاندې ځم .